**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

**په کشمیر کې د ماشومانو اختطاف؛ د هند دولت له سیاستونو څخه دی**

**(ژباړه)**

انګلستانی تلګراف (Telegraph) ورځپاڼې د ۲۰۱۹م کال د اګبسټ پر ۱۵مه د هغو اندېښنو په اړه رپوټ خپور کړ، چې هند په خپله خاوره پورې د کشمیر د ترلو پر مهال د کشمیر ماشومان اختطاف کوي. د جیان دریز او میمونه ملا په ګډون د مدني ټولنې یوې ډلې د ډېرو هغو ماشومانو په اړه معلومات راټول کړي، چې وایي دغه ماشومان د هند وسلهوالو ځواکونو بندي او وهلي دي. په کشمیر کې په بشپړه توګه د رسنیو بندول دغه لوی جرمونه همداسې له رسنیز کېدو پرته پرېږدي؛ خو د بشري حقونو د فعالانو یوه ډله بېلابېلو سیمو ته د تګ توانايي لري او په خپله کېمره یا ټلیفون سره د هندو دولت له هغو ظلمنو او جرمونو څخه ویډیو کولی شي، چې د رسنیو او نړۍ له سترګو پټ پاتې دي. دوی د هند دولت له رسنیو او ټیلویزیوني شبکو څخه د دغو ویډیوګانو د خپرولو حق نه لري، خو هماغه وخت یې چې ویډیوګانې اخیستې، یوټیوب ته یې د « Caged Kashmir » (په قفس کې راګیر کشمیر) په نامه خپرې کړې. په یوه ځانګړې پېښه کې یو ۱۱ کلن ماشوم له سلګونو نورو ځوانانو او لویانو سره د پمپور سیمې د پولیسو په حوزه کې بندي دي؛ دغه کوچنی ماشوم دلته په بې رحمۍ وهل او ډبول کېږي. دغه ماشومان غالباً په نیمه شپه په زور په هغو چاپو کې له خوبه راپاڅول کېږي او اختطافېږي چې د ماشومانو او د هغوی د کورنیو د وېرولو په موخه یې کوي، په دغو چاپو کې معمولاً ښځې او نجونې هم ځورول کېږي. پر انټرنېټ خپرې شوې ویډیو د یوه بل کوچني ماشوم رپوټ هم افشا کړ، چې د اګبسټ پر ۵مه په جومات کې د لمانځه له ادا کولو وروسته تښتول شوی. دغه ماشوم وایي، چې له ده سره یوولس دوولس نور نوي ځوانان هم بندیان وو. دغه ټول جنایتونه پر هغو وخیمو زیانونو سربېره کېږي، چې هندو دولت په کشمیر کې نوي ځوانان او ماشومان د مظاهرو پر وخت په فلزي مرمیو ړاندي کړي او نور... په رښتیا چې د دغو مشرېکینو ښکاره دښمني څرګندوي.

د اسلامي دولت د نشتون په سبب نن ورځ هندو دولت دا جرات پیدا کړی، چې د اسلامي امت بچیان اختطاف او ناوړه استفاده ترې وکړي. که چېرې موږ اسلامي دولت درلودی، د مسلمانانو د وینې د دفاع او د مودي د رژیم په زړه کې د وېرې اچولو په موخه به یې د خپلو پوځونو د تجهیز لپاره سیاسي اراده درلوده. د مسلمانانو اوسني ټول چارواکي، د کشمیر د مظلومو مسمانانو د ساتنې او ژغورنې لپاره د هېڅ کار نه کولو، سکوت او وسلهوالو پوځونو د نه لېږلو په سبب له هند سره د کشمیر د مسلمانو بچیانو په شکنجه او د هغوی د حقونو په نقص کې شریکان دي. مثلاً، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان، چې یوازې په تشو او بې مانا خبرو یې د مودي جرمونه وغندل او د ګدایۍ کچکول یې د ناقص او ناتوانه ملګرو ملتونو دروازې ته وروړ، چې هندو دولت له خپل متخاصم حرکت څخه شاتګ ته اړ کړي. هغه ملګري ملتونه چې په ۷ لسیزو کې یې د تاوتریخوالي په هغو هوکړهلیکونو سترګې پټې کړې او هندو دولت یې معاف کړی، چې هند تر پښو لاندې کړې دي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

**«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ»**

**ژباړه:** *مسلمان د بل مسلمان ورور دی، مسلمان نه پر خپل ورور ظلم کوي او نه يې پر خپل حال پرېږدي.*

د اسلامي نړۍ په اوسنيو رژيمونو کې د مظلومو مسلمانانو ازادول په يوه دولتي سياست بدل شوي؛ دوی خپل پوځيان په خپلو هډو کې ساتي. په داسې حال کې چې د خوېندو او وروڼو وينه يې توييږي، مېندې او خورانې يې ځورول کېږي او بچيان يې اختطاف او شکنجه کېږي. د اسلامي نړۍ په اوسنيو رژيمونو کې، دوی د اشغال شوو مسلمانانو ازادول د يوه هېواد د کورني سياست کار بولي او اشغال د امت په قضيه پورې هېڅ نه تړي. پوځونه يې په هډو کې کرار پراته دي، په داسې حال کې چې د خويندو او وروڼو وينه يې د باران په څېر بهېږي؛ خويندې او ميندې يې بې عزته کېږي او ماشومان يې اختطاف او ځورول کېږي. موږ په وسله‌والو پوځونو کې له مخلصو او با ايمانه بچيانو پوښتو، چې تر څه وخته به د دغو ډارنو او بې غيرته چارواکو پيروي کوئ؟ هغه خاين چارواکي چې مسلمانانو ته هېڅ ارزښت نه ورکوي او هغه چارواکي چې د دين د دښمنانو د حاکميت ککړ لاسونه پياوړي کوي او تاسو د خپل امت پر وړاندې د سپېڅلې دندې ترسره کولو ته نه پرېږدي.

تر کومه به په کشمير، فلسطين، سوريه او نورو ځايو کې د خپلو وروڼو او خويندو د ذبحې او بندي کولو شاهدان وئ، په داسې حال کې چې ستاسو د حرکت نه کولو په بدل کې د الله سبحانه و تعالی قهر درته معلوم دی؟ تر څه وخته به د کشمير، فلسطين، سوريې او نورو سيمو د مسلمانانو پر وړاندې له خپل مسووليت څخه اوږه خالي کوئ، په داسې حال کې چې د دغه کار په سبب د الله سبحانه و تعالی قهر درمعلوم دی؟ تر کومه وخته به مو غوږونه د دغه امت د ماشومانو د چيغو او ژړاوو پر وړاندې کاڼه او خپلې سترګې د خپلو خويندو د بې عزته او بې عفته کېدو پر وړاندې ړندې وي؟ په داسې حال کې چې د دغه وضعيت د ختمولو وړتيا لرئ.

موږ د وسله‌والو ځواکونو او چارواکو په ګډون پر تاسو (اسلامي امت) غږ کوو، چې د خپل اسلامي مسووليت د ادا کولو او د مسلمانانو د ځان، مال او مقدساتو د دفاع لپاره راپورته شئ. د دين د دښمنانو په زړه کې وېره او هيبت واچوئ. د مسلمانانو اشغال شوې ځمکې ازادې او حزب التحرير ته د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره نصرت ورکړئ؛ ځکه چې خلافت دولت به د هر مسلمان نارينه، ښځې او ماشوم لپاره ډال وي. اسلامي خلافت داسې دولت دی، چې هېڅکله پر مسلمانانو باندې د کافرانو تسلط او د يوه مسلمان ماشوم شکنجې او ګواښلو ته اجازه نه ورکوي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّـهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾**

[توبه: ۳۸]

**ژباړه:** *ای مؤمنانو! په تاسې څه شوي چې کله تاسې ته د الله سبحانه وتعالی په لار کې د وتلو لپاره وويل شول، نو تاسې په ځمکه درانده کېناستلئ؟ ايا تاسې د اخرت په مقابل کې د دنيا ژوند غوره کړی دی؟ که داسې ده نو تاسو ته دې معلومه وي، چې د دنيا د ژوند دا ټول وسايل به په اخرت کې هېڅ شي.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

د ښځو برخه
د صدور ګڼه: ۰۴۳ ۱۴۴۰ / AH
۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذو الحجې ۲۷مه
۲۰۱۹م کال، د اګېسټ ۲۸مه